p

## د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره: | ۱۴ـ ۱۳۸۹ |
| موضوع: | د ولسي جرګې د کاندیدانو د انصراف د دورې، د کمیسیون د ولايتي دفترونو د تحلیف لیک، د کاندیدانو په لومړني لست کې د ولسي جرګې د څلورو کاندیدانو د نومونو شاملول او د کندز ولایت څخه د ولسي جرګې د کاندیدانو په نهایي لست کې د فرید احمد کاکړ نه شاملول |
| مرجع: | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست |
| وخت، نیټه او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ هـ ل کال د غويي ۲۶، چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د می له ۱۶ نېټې سره سمون لري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي: | ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ایوب اصیل ، آغلې مومنه یاري ، آغلې مستوره ستانیکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي . |

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ،

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون د یادو شوو موضوعاتو په اړه لاندې پریکړې وکړې:**

1. د ولسي جرګې د کاندیدانو په لومړني لست کې شامل نوماندان کولی شي چې د روان کال د غبرګولی تر ۲۱ نیټې پورې له خپل کاندیدا څخه لاس په سر شي، له ټاکل شوې نیټې څخه وروسته د کاندیدانو انصراف د منلو وړ نه دی.
2. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ولایتي دفترونو د مسوولینو تحلیف لیک تایید او تصویب دی.
3. د دغو څلور تنو کاندیدانو (مولوي هدایت الله (هدایت)، سیدزاده (دوکتور سیدبخش)، عبدالعزیز (استاد داکتر کریمي شیرداغ) و محمد فرهاد عظیمي) نومونه چې د لومړني لست د چمتو کولو په مهال یې سندونه د ټا کنو د خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر ته نه وو رسیدلی په لومړني لست کې شامل کړل شي او د یو مکتوب په ترڅ د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته په دې اړه خبر ورکړل شي.
4. د کاندیدانو په نهایي لست کې د کندوز ولایت څخه د ولسي جرګې کاندید (فرید احمد کاکړ) د نه شاملولو په موخه د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته یو اعتراضیه لیک ولیږل شي.